PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

# DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۸۹۳

لسم کال - دویمه دوره، ۸۹۳ مه ګڼه، پر له پسې ۱۹۶۰ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د تلې ۲۱ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق ذوالقعدة الحرام ۵ مه ۲۰۱۰ د اکتوبر ۱۳ مه

## چالش جدید ماموریت نظامی کانادا در افغانستان

امارات متحدهٔ عربی می گوید، یک پایگاه نظامی کانادا در امارات را که تا به حالا موجودیت آن پنهانی نگهداشته شده بود، مسدود می کند.

به گزارش رادیو آزادی، این پایگاه در اکمالات نیروهای ۲۵۰۰ نفری کانادا در افغانستان نقش عمده دارد.

# افغان ځواکونو ته د امنیتي چارو سپارل، څه وخت او پر کوم اساس؟



د ناټو عمومي منشي وړمه ورځ وویل اټکل کېږي چې د ناټو غړو هېوادونو مشران به راتلونکې میاشت د پرتګال په لیزبون کې د راتلونکي کال له جولای څخه په افغانستان کې افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي چارو د سپارلو وخت په دې سره ترڅو ولري چې د طالبانو پرضد جګړه څرنګه پرمخ درومي او افغان امنیتي ځواکونه څومره پرمختګ کوي او د امنیتي چارو منلو ته ځومره تیار دي. د ناټو سرمنشي په لیزبون کې یوې خبري غونډې ته وویل: «زه به د لیزبون په سرمشریزه کې د یوه اعلان تمه ولرم، چې افغان ځواکونو ته د امنیتي چارو سپارل به په ۲۰۱۱ کال په لومړیو کې، نهایتاً د ۲۰۱۱ په جولای کې پیل شي.» ده د راتلونکي کال تر اکتوبر پورې درو لکو ته د افغانستان د ملي اردو او ملي پولیسو د شمېر د زیاتولو لپاره د ناټو د روزونکو پر ډېرولو ټینګار وکړ او ویې ویل: «موږ به د همدې پلان پر اساس کار وکړو. ښکاره ده چې د امنیتي چارو د انتقال درسته پروسه باید مشروطه وي.» ده دا هم وویل چې د امنیت په برخه کې پرمختګ وشي، دا پلان له حقیقتونو سره سم او په ځای دی. راسموسن د تېرکال په دسمبر کې ویلي وو چې د ولسمشر بارک اوباما له لورې افغانستان ته د زیات شمېر ځواکونو لېږل باید په ۲۰۱۱ کال کې د افغانستان په پنځلس سیمو کې افغان امنیتي ځواکونو ته د خپل هېواد د امنیتي چارو سپارلو ته لار اواره کړي. د تاند د راپور له مخې، تېره میاشت په افغانستان کې د ناټو روزونکو مشر خبرداری ورکړ چې که افغانستان ته د ناټو د غړیو له لورې زیات شمېر روزونکي ونه لېږل شي، دوی ته به ګرانه وي چې تاکلی هدف پوره کړي.

## ایکاش ایران در قبال مهاجران افغان سیاست یگانه می داشت!

هیچ کس منکر خدمات دولت ایران طی سی سال گذشته نسبت به مهاجران نبوده و نیست، ولی انصاف مطلب این است که بسیاری از مهاجران با دلخوشی و خاطرهٔ خوبی ایران را ترک نکرده اند. روز گذشته، وزیر امور مهاجران و عودت کننده گان در حاشیهٔ شصت و یکمین اجلاس سازمان ملل در امور پناهنده گان در ژنیو، طی سخنانی از ایجاد تغییراتی در زمینهٔ بهبود اقامت مهاجران افغان در ایران و پاکستان خبر داد. جماهیر انوری در این رابطه اظهار داشت: با هیأت های ایرانی و پاکستانی صحبت هایی پیرامون وضعیت مهاجران افغان در این کشورها صورت گرفته و طرفین وعده های مساعدی را در این زمینه داده اند. وی افزود: دولت ایران اعلام آماده گی نموده، تا زمینهٔ کار و تحصیل را برای مهاجران به اصطلاح قانونی افغان در این کشور فراهم کند و پاکستان نیز تعهد نموده، تا سه سال دیگر اقامت مهاجران افغان را تمدید نماید. این سخنان وزیر صاحب در حالی صورت می گیرد که موسوی نسب رییس مرکز ساماندهی مهاجران در تهران چندی قبل بیان کرده بود که سیاست ایران این است که ورود مجاز اتباع بیگانه را تسهیل کند و به شدت با اتباع غیرمجاز برخورد خواهد کرد و این اطمینان را می دهد که به زودی زمینهٔ بازگشت داوطلبانهٔ مهاجران به افغانستان فراهم شود. باید گفت هیچ کس منکر خدمات دولت ایران طی سی سال گذشته نسبت به مهاجران نبوده و نیست، ولی انصاف مطلب این است که بسیاری از مهاجران با دلخوشی و خاطرهٔ خوبی ایران را ترک نکرده اند. مهاجرانی که بسیاری از آنها شاید بیش از سی سال است به ایران پناهنده شده اند. ص۳

## خصوصي سکتور له افغان حکومت نه کرنیزې ځمکې په اجاره اخلي

افغان حکومت د افغانستان د اراضیو په نامه یوه داسې اداره جوړه کړه چې خصوصي سکتور ته به کرنیزې حکومتي ځمکې په اجاره ورکوي. کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته حکومتي ځمکې په اجاره ورکول، د حکومتي ځمکو سروې، ثبتول او د ځمکو پر سر د راولاړو شویو لانجو هوارول هغه خبرې دي چې چارواکي یې ددغې نوې اداري له موخو ګڼي. ددغې نوې جوړې شوې اداري مشران وایي چې د اجارې کرنلاره یې ساده کړې ده چې د پانګوالو لپاره به اسانتیاوې رامنځ ته کړي. د افغانستان د کرنې وزارت ددغې نوې اداري جوړول د کرنې د پرمختیا په برخه کې یو ګټور ګام بولي. چارواکي وایي له دغې ګام اخیستنې یې موخه داده چې د خصوصي برخې مینه والو پانګوالو ته داسې لارې چارې برابرې کړي چې په ډېرې اسانۍ سره حکومتي ځمکو ته لاسرسی پیدا کړي. د افغانستان د اراضي اداري مشر شهیر شهریار وایي چې افغان حکومت دا مهال نږدې اته میلیونه هکتاره کرنیزه ځمکه په لاس کې لري، چې خصوصي برخې ته یې په اجاري سره دورکړې ۳مخ

## مفقود شدن ۵۰۰ لاری حامل مواد تدارکاتی ناتو در پاکستان

۵۰۰ دستگاه لاری نفتکش و تریلی حاوی مواد مورد نیاز نیروهای ناتو در پاکستان گم شده است. یک مقام سازمان گمرک پاکستان با اشاره به مفقود شدن بیش از ۵۰۰ لاری حامل مواد سوختی و سایر مواد مورد نیاز نیروهای ناتو در این کشور گفت: این لاری ها چند روز پیش از بندر "قاسم" کراچی به مقصد افغانستان از طریق مرز زمینی حرکت کرده بودند که تاکنون به مرز "چمن" پاکستان نرسیده است. این مقام پاکستانی با اشاره به اینکه این سازمان تحقیقات در این مورد را به دستور ستره محکمهٔ پاکستان آغاز کرده، ابراز امیدواری کرد، ص۳



### مسوولان پولیس سرحدی ولایت نیمروز:

## مقداری از مهمات ایرانی در مربوطات نیمروز به دست آمده است

**این مهمات شامل چند حلقه ماین، مقداری از مواد منفجره، چند فیر راکت و ریموت کنترول می باشد**

مسوولان پولیس سرحدی ولایت نیمروز، از کشف و ضبط مقداری مهمات مختلف النوع که مهمات ایرانی نیز شامل آن می باشد، خبر دادند. سمونوال عبدالنصیر عیار قوماندان کندک ۹سرحدی نیمروز، گفت که به تاریخ ۱۹ میزان طی دو عملیات جداگانه در ولسوالی های چهاربرجک و کنگ این ولایت، مقداری مهمات مختلف النوع شامل مهمات ساخت ایران را کشف کرده اند. به گفتهٔوی، مهمات مذکور، شامل ۵ حلقه ماین مختلف النوع، ۲عدد بشکهٔ ۲۰ لیتره مملو از مواد منفجره، ۱عدد دیگ بخار مملو از مواد منفجره، ۲فیر میزاییل، ۱۲فیر مرمی راکت انداز آر. پی. جی، ۶عدد فیوز ماین، مقداری مواد منفجره، بطری، لین ارتباطی و ریموت کنترول می باشد که از دو دیپو در نزدیکی مرز ایران به دست آمده است. عیار اظهار داشت که مخالفان می خواستند، از این مواد، در عملیات تخریبی و هدف قراردادن کاروان های نیروهای پولیس استفاده ص۳

## د داوطلبۍ خبرتیا

**نیټه: ۱۱ - اکتوبر - ۲۰۱۰**

دپاکستان سفارت په نظر کې لري چې د اوبو یوه ځاه د بولۍ لپاره وړاندې کړي. نوموړې ځاه باید (۱۲۰) متره ژوره وي، (۱۳) انچه سور ولري، (۶) انچه دپایپ اندازه ولري او (۶) انچه د ترکیي فلترلپاره ځای ولري. دیادولو وړه ده چې بایدد برق ټول سهولتونه ولري چې (۲) انچه د اوبوپه بیخ کې واټر پمپ او (۷.۵) هاسپاوره موتر کنترول مشین هم ولري.

موقعیت: کارته پروان د پاکستان اسلامی جمهوریت سفارت ودانۍ، کابل. د اړیکو ټینګولو لپاره داوطلبان کولای شي چې په وزیر اکبر خان کې د نجات واټ ته ځیرمه د پاکستان سفارت ته مراجعه وکړي.

د تلیفون شمېرې:

۰۲۰۲۳۰۰۹۱۱ او ۰۲۰۲۳۰۰۹۱۳

د پاکستان د اسلامی جمهوریت سفارت، کابل

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

# شمال له لاسه وځي!!

په دې وروستیو کې پر سوېل سربېره د هېواد د شمالي سیمو امنیتي وضعیت هم کړکېچن ښکاري. د نویو ارزونو او څېړنو پر بنسټ، د بغلان، کندوز، تخار، بدخشان، بلخ، جوزجان، سرپل، سمنګان او فاریاب ولایتونو حالات د اندېښنې وړ ښودل شوي. په دغو ولایتونو کې، د وسلوالو مخالفینو ځواک پیاوړی شوی، جنګ جګړې زور اخیستی، د تېرو نهو کلونو په بهیر کې تاوتریخوالی خپلې نهایي کچې ته رسېدلی. داسې ورځ به نه وي، چې یو له دغو ولایتونو د طالبانو، دولت او ناټو ځواکونو ترمنځ داخ و ډب ډګر نه وي. تېره جمعه د کندوز والي انجنیر عمرخان په تخار ولایت کې د یو بمي برید ښکار شو، همدا اوس په بغلان ولایت کې امنیتي حالات له ټیکاو څخه وتلي، پرون ورځ د بلخ ولایت په چمتال ولسوالۍ کې د پولیسو او طالبانو ترمنځ ښه ګرمه جګړه روانه وه. پر همدې ورځ، د همدې خبر تر خپرېدو وړاندې، د کندوز په چهارډره کې د المانې ځواکونو یو ټانګ د ماین خوراک شو، چې د المانې ځواکونو د سرچینو په حواله په کې څلور تنه سپاره عسکر ټپیان شوي دي. تر دې ها خوا، د کندوز پخواني والي انجنیر عمرخان په خپله یو خبري ناسته کې ویلي وو، چې د کندوز ولایت پر ۴۰ سلنه سیمه د طالبانو راج چلېږي.

دا ټول د دې ښودنه کوي، چې د ناامنۍ او تاوتریخوالي ځپې ورځ تر بلې شمالي ولایتونه په خپله غېږه کې اخلي. طالبان هم کوښښ کوي، چې په شمال کې خپله هسته نوره هم ځواکمنه او پیاوړې کړي. البته هغوی هم په دې سیمه کې خپل ځانګړي اهداف او ستراتېژي لري. هغوی غواړي، په شمالي ولایتونو کې د خپل نفوذ او واک د ساحې په پراخولو سره، له یوې خوا په سوېل کې د ناټو او افغان ځواکونو له تمرکز او زور ځخه مخنیوی وکړي او له بلې خوا، د ناټو هغه اکمالاتي لاره هم ډپ کړي، چې له کندوز او بغلان ولایتونو څخه تېرېږي. اما دا چې کوم لاملونه د شمال په ناامنه کولو کې کره ونډه لري، دا هم ټولو ته ښکاره ده، چې هلته هم، د حکومت کړنو او کړنلارو خلک تر سپړمو راوستي، دولت په تېرو نهو کلونو کې نه د سوېل او نه د شمال لپاره داسې کار کړی، چې خلک پرې راضي او شکر وباسي. هلته هم د فساد او مافیا ښکاره او پټې کړۍ په خپل ټول توان او قوت سره د خلکو وینه زبېښي. دا هغه څه دي، چې خلک یې سرګردان او له دولت څخه زړه توري کړي او دې ته یې رسولي، چې د وسلوالو مخالفینو د فعالیتونو پر وړاندې بې تفاوته پاتې شي.

دا ټول شیان د دې لامل شوي، چې د شمال حالت د هرې ورځې په تېرېدو سره خوړین او د ناورینجن شي، دولت او نړیواله ټولنه که همدا اوس د دې ستونزې د حل لپاره ګامونه وانه خلي، او لومړی په شمال کې د سالمي اداري په رامنځ ته کولو او د خلکو د ستونزو غمه و نه خوري او د هغو لاملونو په څېړلو او لرې کولو کې اقدام و نه کړي، چې په شمال کې د دې لویې ستونزې لامل ګرځېدلي، نو لرې به نه وي، چې شمال هم د سوېل پر برخلیک واوړي او هغه مهال به بیا هر اقدام او تدبیر بې وخته او بې ګټې وي.

**بېکاري او بې روزګاري،**

## د افغان دولت د ثبات او پرمخیون پر وړاندې تر ګردو لوی خنډ!

**میوند**

بېکاري او بې روزګاري هغه پلیته بلاده، چې تل افغان ولس او په تېره بیا افغان ځوانان ورسره لاس او ګرېوان دي. که په ټولیزه توګه د افغانستان له شماله تر سوېله او بیا له ختیځه تر لوېدیځه پورې په ټول افغانستان کې سروې وکړو، نو دا په ډاګه ښکاري، چې د نړۍ د بل هر هېواد په پرتله په افغانستان کې د بېکارۍ ستونزه اویا بېکاري ځو ځو چنده زیاته ده او ان هغه مهال ښایي دا هم وویل شي، چې افغانستان په نړۍ کې د بېکارۍ او یا د بې روزګاره خلکو، په تېره بیا د بې روزګاره ځوانانو د درلودلو له امله د سر په لیکه کې راځي. په عمومي توګه باید ووایو، چې بېکاري او بې روزګاري که په هره ټولنه کې ریښې وغځوي، هغه ټولنه بدخته کېږي او ان هغه ټولنه د ذوال تر پوړیو هم رسولای شي. په هر صورت دا ستونزه به اوس په خپل هېواد کې وځېرو، چې څومره غوښنه شوې او همداشان په راتلونکي کې کومې منفي پایلې او پر ټولنه کومې منفي اغېزې شیندلای شي. زمور اوسمهاله ټولنه کې دوه ډوله بېکاره او بې روزګاره وګړي یا په بله وینا بېکاري او بې روزګاري موجوده ده. یو ډول یې هغه خلک دي، چې لوست او زده کړې نه لري. دا ډول کسان که په کوم ځای کې ورته د فزیکي کار زمینه برابره شي، پر کار دي او که نه بېکاره او بې روزګاره ګرځي. په دې ډله کې هم اکثریت یې بېکاره او بې روزګاره وي او ډېر کم شمېر یې کار ته لاسرسی لري. دویمه ډله هغه کسان دي، چې زده کړې هم لري او ان لوی لوی کادرونه دي، خو له بده مرغه کار ته لاسرسی نه لري، داسې نه چې کاري وړتیا نه لري، بلکې کاري وړتیا هم لري، خو د بېلابېلو لاملونو له امله نه شي کولای کار وکړي. په دغو لاملونو کې یو یې ناامني ده، خو په حقیقت کې همدغه ناامني تر ډېره بیا هم د بېکارۍ او بې روزګارۍ له امله ده. ځکه کله چې په یوه ټولنه کې بې کاري او بې روزګاري خوره شي، هغه ټولنه بیا دارام او سکون ساه نه شي اخیستلای او بېرته بیا همدغه ناوړه او ناامنه حالت نور هم بېکارۍ او بې روزګارۍ ته لار هواروي. نو په دې توګه بېکاري او ناامني دواړه سره تړلي دي او د دې دواړو د له منځه وړلو لپاره لازمو، پر ځای او دقیقو پلانونو اواقداماتو ته اړتیا شته. اوسمهال زمور ډېرې ځوانان، په هغو سیمو کې چې امنیت یې خراب دی، د بېکارۍ له امله دې ته اړ دي، چې وسلې ته لاس کړي او په دې توګه په ناامنۍ کې خپله ګټه وینې. په دې ډول کسان کې ډېرې یې لوستي او ان د لوړو زده کړو خاوندان هم دي، خو هغوی هم له دې امله، چې په دولت کې د کار کولو اجازه نه لري، نو اړ دي، چې یا بېکاره کېني او یا د دولت له وسلوالو مخالفانو سره لاس یو کړي. همداشان په هغو سیمو کې چې امنیت یې خوندي دی، هلته هم هغه کسان چې لوړې زده کړې لري، ډېرې یې د واسطې او اړیکو د نه شتون په صورت کې بېکاره پاتېږي او یا هم نورو بېلابېلو فزیکي کارونو ته مخه کوي. همداشان هغه کسان چې زده کړې نه لري، هغوی هم د روزګار او دکار د نه شتون په صورت کې ګاونډیو او یا هم نورو بهرنیو هېوادونو ته د کار کولو په موخه هېواد پرېږدي، په داسې حال کې چې په اکثرو امنو سیمو کې چې د بیارغونې او نور بېلابېل کارونه ترسره کېږي، د افغانانو پر ځای د نورو ګاونډیو هېوادونو خلک په کې په کار ګومارل شوي، سره له دې چې افغانان ښه کاري وړتیا هم لري. په هره توګه، اوسمهال د بېکارۍ ستونزه د افغان دولت د ثبات او پرمخیون پروړاندې تر ګردو مهمه ده او باید جدي ونیول شي. په همدې ترڅ د افغانستان د ځوانانو ټولنه هم وایي، په داسې حال کې چې په هېواد کې د وزګارو ځوانانو شمېر مخ پر زیاتېدلو دی، افغان دولت ځوانانو ته د کارموندنې په برخه کې جدي پاملرنه نه کوي. د افغانستان د ځوانانو ټولنه د ځوانانو بې روزګاري د دوی یوه لویه ستونزه ګڼي او له افغان دولت څخه غواړي، چې دې برخې ته جدي پام وارېوي. د افغانستان د ځوانانو د ټولنې مشر غلام داوود شعیب د روان کال د تلې د میاشتې پر شلمه نېټه د سې شنبې په ورځ په کابل کې د دغې ټولنې له خوا د ځوانانو د بې روزګارۍ د ستونزې د څېړلو په نامه په جوړ شوي کنفرانس ۳ مخ

**به نقش علما، روحانیون و سران اقوام**

## در روند ایجاد صلح باید توجه نمود

**خالد وفایی**

امروز رویارویی تسلیحاتی و جنگ گرم به هدف تأمین اهداف استراتیژیک و استعماری قدرت های بزرگ و کوچک دنیا جای خود را به جنگ سرد و تبلیغاتی داده و رویکرد رویارویی روانی به مثابهٔ ابزار مؤثر در امر تأثیر گذاری و تغییر افکار عمومی و به منظور گسترش اهداف و استراتیژی های موردنظر قدرت های جهانی کاربرد ویژه یی داشته است؛ ابزار استفاده در این جنگ در کشور هایی که به کمال دموکراسی و توسعهٔ سیاسی رسیده اند، وسایل اطلاعات همگانی، نهادهای فعال مدنی و ... می باشد. اما در کشورهای سنتی که هنوز نقش و سهم وسایل ارتباط همگانی به گونهٔ لازم نهادینه نشده است؛ سران اقوام، اشخاص با نفوذ سیاسی- اجتماعی، سنن، عنعنات و ایجاد جرگه ها در زمینهٔ سمتدهی و هدایت افکار عامه و حل مشکل و معضلات کلان ملی نقش مهمی دارند. افغانستان به مثابهٔ کشور اسلامی که مردم آن از یک طرف به ارزش ها و اصول دینی باورمندی کامل دارند و از جانب دیگر، عنعنات و رسوم سنتی و قبیله یی در زنده گی اجتماعی و طرز فکر آنها تأثیر گذار است؛ از اینرو علماء و روحانیون سران اقوام در جهت اشاعه و تبلیغ آموزه ها و اصول اسلامی و اعتقادی در جامعه، جایگاه و اعتبار بزرگی داشته و تمام افراد به هدایت و رهنمودهای آنان باور کامل دارند. به همین دلیل، دشمنان مردم افغانستان همواره با استفادهٔ ابزاری از اصول و اعتقادات دینی در جهت دستیابی به خواسته ها و اهداف سیاسی شان مردم مارا اغفال نموده است. چنانکه به نام ملا و طالب که اصولاً یک واژهٔ مقدس دینی می باشد، ذریعهٔ تعدادی از فروخته شده گان به قدرت های بیگانه سؤ استفاده صورت گرفته و تحت این نام افکار مردم ما را متأثر ساخته اند. بنابر این، علماء، روحانیون و متنفذان اقوام به حیث افراد با اعتماد و قابل قبول در راستای سمتدهی افکار و ذهنیت سازی در جامعه رول عمده را ایفا می نمایند؛ بنابر این علماء و روحانیون به دلیل تأثیر گذاری در ذهنیت افکار عامه در جوامع اسلامی به مثابهٔ مهمترین گزینه و ابزار اساسی برای پیشبرد جنگ روانی به شمار می روند؛ زیرا توطیه های سیاسی دشمنان تحت نام دین و اسلام که در مغایرت با اصول دینی قرار داشته است، ذریعهٔ همین قشر جامعه افشاء می گردد. هم چنان بزرگان قوم و اشخاص با رسوخ منطقه یی که حرف شان قابل باور واعتماد مردم است، به حیث یک عنصر بسیار مهم در تغییر ذهنیت عامه نقش اساسی و تعیین کننده یی داشته و این طیف افراد در سراسر کشور غرض حل و رفع نزاع ها و مشکلات مردم همکاری می نمایند؛ به همین اساس، حرف آنها بالای مردم همان محل حرف کارآ و قابل پذیرش است که استفاده و کارگرفتن از امکانات این نوع افراد در جهت دهی افکار عامه، یک امر ضروری تلقی می گردد؛ در جوامع مثل افغانستان، بالاتر از وسایل ارتباط همگانی نقش علماء، روحانیون و بزرگان اقوام در سمت دهی اذهان جمعی، در خور تأمل است. ضمناً احزاب سیاسی و سازمان های اجتماعی نیز به نوبهٔ خود در این راستا مؤثر بوده و به دلیل اینکه تعدادی از افراد اجتماع را با خود هم عقیده ساخته اند و از طریق نشر دیدگاه ها و ص۳

## تاښتان ۲۰۱۱ افغانستان را ترک می کنیم

وزیر امور خارجهٔ ایتالیا در مصاحبه‌یی با روزنامهٔ لاریپابلیکا اظهار کرد، کشورش احتمالا در تابستان ۲۰۱۱ و در پی واگذاری کنترول چند ولایت افغانستان به مقام های محلی، خروج نیروهای خود را آغاز خواهد کرد. به گزارش شبکهٔ خبری بلومبرگ، فرانکو فراتینی وزیر امور خارجهٔ ایتالیا اعلام کرد، رهبران سازمان اتحاد آتلانتیک شمالی(ناتو) ماه آینده جلسه‌یی در مورد "اولویت برای ولایت هایی در افغانستان که تحت کنترول نیروهای ملی در خواهند آمد" خواهند داشت. فراتینی گفت: ایتالیا نیز در مورد خروج نیروهایش فکر می‌کند، اما این مساله باید در زمان مناسب و با هماهنگی کامل با سایر متحدان انجام شود.

در یک انفجار بم در نزدیکی ولایت فراه افغانستان در تاریخ ۹ اکتوبر چهار سرباز ایتالیایی کشته شدند و یک تن به شدت زخمی شد. ایتالیا حدود ۳۱۵۰ سرباز در قالب نیروهای ناتو در افغانستان دارد.

## مقداری از مهمات ایرانی در ...

نمایند. موصوف افزود که دراین رابطه کسی بازداشت نشده و تحقیقات از سوی پولیس آغاز گردیده است. در عین حال، یکی از مسوولان پولیس سرحدی که نخواست نامش افشا گردد، کشف مهمات یادشده را تایید کرد. وی به پژواک گفت که در جمع این مهمات، ۳حلقه ماین ضد پرسونل و دو راکت انداز ساخت ایران وجود دارد و بر روی آنها نیز، آرم جمهوری اسلامی ایران و ساخت ایران (Made in Iran) حک شده است. بنا بر اظهارات منبع، سه ماین ساخت ایران در زیر زمین جاسازی شده بود که توسط نیروهای سرحدی خنثی گردیده و غیرفعال شد. به گفتهٔ موصوف، مهمات دیگر نیز، ساخت کشورهای چین و روسیه می باشد. گفتنی است که پنج روز پیش نیز نیروهای امنیتی نیمروز، ۱۹ تن مواد منفجره را از یک موتر لاری در گمرک این ولایت به دست آوردند که بعد از کشف و ضبط این مواد، وزارت امور خارجه اعلام کرد که این مواد، ساخت ایران بوده و از آن کشور وارد افغانستان گردیده است. اما وزارت امور خارجهٔ ایران این ادعا را رد کرده و اظهار داشت که این مواد، منفجره نه، بلکه مواد محترقه بوده که از کشور چین به افغانستان ترانزیت شده است.

## خصوصي سکتور له افغان حکومت ...

لېواله دي. ښاغلی شهریار وایي چې تر راتلونکي یوۀ کال پورې به نږدې ۲۵ زره هکتاره کرنیزه حکومتي ځمکه کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته په اجاره ورکړي: ''موږ چې د کومو ځمکو په اړه خبرې کوو، ټوله د افغان حکومت اراضي ده او موږ غواړو چې له دغې ځمکې نه سوداګریزه ګټه واخیستل شي، موږ غواړو چې دا ځمکې د هغه چا په واک کې ورکړو چې د صنعت، کرنې، مالداری، څرځیونو او ښلابلو فارمونو لپاره تري کار اخیستل غواړي.'' دا ګام داسې مهال اخیستل کېږي چې یو شمېر پانګوال کرنیزو حکومتي ځمکو ته لاس رسی ستونزمن بولي او وایي چې په دې برخه کې تر اوسه حکومتي کړنلارې هم رښې نه دي. د افغانستان د اراضی اداره د ځمکو پر سر را ولاړې شوې ستونزې هوارول هم له خپلو دندو بولي ددغې اداري چارواکي وایي په دغه هبواد کې زورواکانو پر نږدې ځلور میلیونه جریبه حکومتي ځمکه خپله اچولې ده. د بي بي سي د راپور له مخې، د نوې جوړې شوې اداري چارواکي وایي، چې د نورو په ځانګړي ډول د امنیتي ادارو په مرسته به په دې وتوانېږي چې دغه ځمکې بېرته د حکومت شتمني وګرځوي. دا هاغه چاره ده چې حکومت په تېرو نهو کلونو کې نه ده تر سره کړې، بلکې داسې راپورونه دي چې اوس هم د حکومتي ځمکو لاندې کول روان دي. افغان حکومت وایي چې د کرنې د غوړېدا په موخه یې شاو خوا ځلور میاشتې مخکې د کابل کنفرانس ته یوه بشپړه کرنیزه تګلاره وړاندې کړې ده. له طبیعي سرچینو نه ښه ګټه اخیستل، د کرنیزو لاس ته راوړنو ډېرېدلو ته لاره هوارول، او د سیمه ییزو کرنیزو جوړښتونو پیاوړي کول هم د یادې شوې تګلارې برخې وې.

## د افغان ښځینه سوداګرو ...

کې د افغان دولت او نړیوالې ټولې د هلو ځلو په ترڅ کې افغانو ښځو ته په سیاسي، اقتصاد او نورو برخو کې د ودې زمینه مساعده شوې ده. خو یو شمیر ښځې انتقاد کوي چې اکثره اسانتیاوې په ښارونو کې رامنځ ته شوي او د کلیوالو ښځو په ژوند کې تراوسه پورې کوم ژور بدلون نه دی راغلی. انتقاد کوونکي وایي، چې د دې ستونزې د هواري لپاره دولت او خلکو ته په ګډه کار کولو ته اړتیا ده.

## مفقود شدن ۵۰۰ لاری حامل ...

**به زودی اخباری در این مورد منتشر شود. طی دو سال اخیر بیش از ۶۰ هزار وسایط نقلیهٔ سنگین حامل مواد تدارکاتی ناتو از طریق مرز چمن پاکستان وارد افغانستان شده که به طور اوسط یک صد لاری هر روز به حساب می رسد. طی یک سال سرقت لاری های حامل کالا های ناتو در مناطق "قلعهٔ عبدالله"، "کویته"، "کوچلاک" و بعضی دیگر نقاط بلوچستان نیز گزارش شده است. بازار های محلی در این نقاط پراز مواد دزدیده شده از لاری های ناتو می‌باشد. در همین حال، پاکستان روزیکشنبه بعد از ده روز مرز "طورخم" خود را برای تردد وسایط نقلیهٔ حامل مواد مورد نیاز ناتو بازگشائی کرد. اسلام آباد این مرز را برای عبور لاری های حامل مواد مورد نیاز ناتو در اعتراض به کشته شدن سه سرباز پاکستانی در یک منطقه سرحدی مسدود کرده بود.**

## د افغان دولت د ثبات او ...

کې وویل: ((افغان دولت ځوانانو ته د کارموندنې په برخه کې بې غوره دی، زموږ په هېواد افغانستان کې بې روزګاري چیغې وهي، درې میلیونه ځوانان بې روزګاره دي، له ټولو هغو طرحو او مشورو سره سره چې د ځوانانو مدني ټولنو او نورو ټولنو له خوا مطرح شوې دي، لا هم د دولت ټپ غوړونه نه دي خلاص شوي.)) د ځینو راپورنو له مخې اوسمهال په افغانستان کې ۵۲ سلنه خلک چې ډېرې یې ځوانان دي د بې روزګارۍ له ستونزې سره مخ دي. داسې هم ویل کېږي چې د ځوانانو بې روزګاري د افغانستان په نا امنیو هم پوره اغېز لري، ځکه ډېری ځوانان د بې روزګارۍ له املې هم او همداشان له دولت سره د دې لپاره، چې د هغوی پر وړاندې بې تفاوته پاتې دی، عقده نیسي او وسلوال مخالفت ته لاس اچوي. بل دا چې د افغانستان اکثره فزیکي اوان اداري کارونه پردي کسان کوي او افغان کارکوونکو ته یې د کار زمینه لږه کړې ده. نو د دې لپاره چې په افغانستان کې د بېکارۍ او بې روزګارۍ ستونزه راکمه او خلکو ته د کار زمینه برابره شي، افغان دولت ته بایده دي، چې د پردیو استعدادونو پر ځای خپل استعدادونه په کار واچوي، د پردیو کارکوونکو پر ځای خپلو ته ترجیح ورکړي، ځکه خپل خلک خپلو خلکو او هېواد ته په درنه سترګه ګوري او په رښتیني توګه یې خدمت کوي او پردي خو هسې د پیسو او نورو موخو په پار کار کوي. په دې توګه باید دولت هم په فزیکي او هم په اداري کارونو کې افغان مسلکي او پر کار پوه کسانو ته کار ورکړي، څو له یوې خوا په هېواد کې د بېکارۍ ستونزه راکمه شي او له بلې خوا په رښتیني توګه د هېواد د پرمخیون زمینه برابره شي او په دې ډول افغانستان د ثبات او پرمخیتا په لور ګام واخلي.

## در روند ایجاد صلح باید ...

**نقطه نظرات شان برای جلب و جذب افکار عمومی تلاش می نمایند، در واقع، توانایی لازم را در کار متقاعد ساختن اذهان جمعی داشته و از لحاظ روانی حمایت مردمی را در راستایی تحقق اهداف شان جلب نموده اند؛ در صورتی که دولت به مثابهٔ یک جریان نیرومند و کارساز بتواند، در جهت رفع مشکلات جامعه، دیدگاه های آنها را مدنظر گرفته و مشوره های لازم را با احزاب سیاسی و سازمان های اجتماعی در هماهنگی با مشی سیاسی خود انجام دهد، مسلماً تأثیر تعیین کننده یی را در امر ارتقا و تحکیم حاکمیت سیاسی و روند پروسهٔ صلح در جامعه خواهد داشت و به این ترتیب، توجه به این نهادهای بزرگ سیاسی در خصوص هماهنگ سازی افکار عامه و تضعیف روحیه و بی اثر ساختن تبلیغات مخالفان نیز، رول عمده را بازی می نماید. نتا یج این بحث به این اشاره می کند که در جوامع مذهبی همانند افغانستان که بیشترین مردم آن پایبند به ارزش های مذهبی و عنعنه یی خود هستند، از نقش علماء، متنفذان و نماینده گان اقوام مختلف که جایگاه خاص خود را بالای فکر و روان مردم در امر تصمیم گیری های خطیر و کلان کشوری دارند. دولت باید برای تحقق اهداف وخواسته های مشروع که همانا ارایهٔ پیام صلح، خدمات و پیشرفت جامعه می باشد. بناً از نقش و تأثیر آنها در جهت دهی و سمت دهی افکار عامه و پروسه های صلح توجه مبذول بدارد، تا باشد که به اهداف اساسی یی که همانا حمایت مردمی است، دست پیدا کند. با توجه به آنچه گفته آمدیم، دولت و مردم افغانستان که اکنون در آستانهٔ ایجاد روند صلح و شورای عالی صلح قرار دارند و امیدها و عزم جمعی برآن است که این شورا بتواند، با اشتراک نماینده گان، شخصیت های با نفوذ و سران اقوام مختلف حضور نهادهای مدنی، سیاسی و اجتماعی به یک رویکرد و استراتیژی اساسی به خاطر حل معضلات کنونی در افغانستان موثر واقع گردیده که این راهکار بتواند، پاسخ مثبتی به نیازمندی های عمومی مردم که همانا تأمین امنیت و صلح پایه دار در کشور است، دست یابند.**

## ایکاش ایران در قبال ...

**هنوز نمی توانند، مجوز راننده گی دریافت نمایند. نمی توانند، حتا وسایط نقلیهٔ خود را به نام خودشان سند بزنند و حتا نمی توانند، خود را بیمه نمایند و یا در بسیاری از موارد جواز کار دریافت نمایند. دوستان مسوول ایرانی نیز هرگاه این مشکلات به میان آمده، گفته اند: مهاجرانی که متقاضی دریافت این تسهیلات هستند می توانند، مدارک شناسایی خود را تحویل ادارهٔ اتباع ایران نمایند و از طریق نیروی انتظامی پاسپورت و اقامت یکساله دریافت نمایند. ( که البته این طرح به تازه گی اجرایی شده و تا دو سه سال قبل فقط به عدهٔ خاصی اقامت داده می شد). ولی مهاجران افغان در ایران این دغدغه را دارند که شاید این اقامت ها سال دیگر تمدید نشود و همین مدرک شناسایی آنها که بیانگر سابقهٔ حضور آنان در ایران هست نیز، از بین برود. هرچند باید گفت این کارت های شناسایی در سال های گذشته که به هیچ دردی نخورده است و حتا با آنها نمی توان امور بانکی انجام داد، چه رسد به کارهای دیگر. به هر صورت ایکاش وزیر محترم امور مهاجران و عودت کننده گان افغانستان در دیدار با هیأت ایرانی متذکر این مطلب می شد که بسیاری از مهاجران افغانستان کشور ایران را به دلیل ناامنی های اجتماعی کرده اند و معلوم نیست، سرنوشت آنها چه خواهد شد. آیا بهتر نبود با مشخص کردن تکلیف و وضعیت این مهاجران آنها را از این بلاتکلیفی نجات داد، تا دیگر فقط غم و غصه کار و تحصیل و بیماری را داشته باشند و به فکر مهاجرتی در حال مهاجرت دیگر نباشند؟ و آیا پسندیده نبود، تا دولت ایران با ارایهٔ حقوق اجتماعی پیش پا افتاده از قبیل مجوز راننده گی و جواز کار، اجر و مزد زحمات سی سالهٔ خود را ناچیز جلوه نمی داد؟ این کار را دیگر کشورهای مهاجر پذیر انجام دادند و سبب شد، تا خدمات ناچیز آنها زبانزد افغان ها شود، ولی ایران به دلایلی این کار را نکرد؛ هرچند بسیار بیشتر از دیگر کشورها برای مهاجران افغان متحمل زحمت و خدمت شده بود.**

## د ناټو یوه چورلګه نسکوره شوه

ناټووایي چې پرون یې په کونړ ولایت کې په یوه چورلکه کې د شوې چاودنې له املې، یو سرتېری وژل شوی او اته نور ټپیان دي. له دې مخکې دغو ځواکونو، په یاده شوې پېښه کې د دوو سرتېرو د وژل کېدو او لسو نورو د ټپي کېدو خبر ورکړی و. په کابل کې د ناټو په مشری د ایساف ځواکونو مطبوعاتي دفتر له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې دغه پېښه د افغانستان په ختیځ ولایت کونړ کې رامنځته شوې ده. خو ایساف د پېښې کره ځای نه دی په ډاګه کړی. په خبرپاڼه کې راغلي دي، چې چاودنه هغه مهال په چورلکه کې دننه وشوه، کله چې دغې چورلکې پر ځمکې ناسته کړې وه. د ایساف د معلوماتو له مخې، له لومړنیو راپورونو څخه د چاودنې لامل نه دی څرګند او په اړه یې پلټنې پیل شوې دي. په خبرپاڼه کې راغلي دي، چې د چاودنې ساحه د افغان او ایساف ځواکونو له خوا کلابنده شوې او تېپیان روغتون ته وړل شوي دي. خو په ختیځو ولایتونو کې د ناټو ځواکونو مطبوعاتي دفتر پژواک ته ویلي، چې دغه چورلکه د مخالفینو له خوا په راکټ وبشتل شوې ده. سرچینې زیاته کړه، چې په چورلکې کې د کونړ د مرورې ولسوالۍ د غاښې کنډو په سیمه کې افغان سرحدي پولیسو ته اکمالات کېدل، چې تر بریدلاندې راغله. طالب ویاند ذبیح الله مجاهد وایي، چې چورلکه دوی ویشتې، د غره په یوه نالۍ کې غورځېدلې او په کې ناست ټول سرتېري وژل شوي دي.

# چگونه می توان از شر تروریزم بین المللی نجات یافت؟

عبدالباصر منصوری



آن چنانی که از سالیان قبل بدین طرف، مردم افغانستان از گسترش و توسعهٔ روزافزون تروریزم به کشورهای منطقه و حتا جهان آگاهی و از این جهت هشدار داده بود، ولی آن چنان توجهی به این امر از جانب کشورهای خارجی صورت نگرفته است. ولی با افشای اسناد از جانب مؤسسهٔ غیردولتی "ویکی لیکس" و گرفتاری صدها تن از باشنده گان خارجی (پاکستانی) که به منظور فعالیت های تخریبی وارد افغنستان شده بودند و معلوم شد که کشور پاکستان بزرگترین بانی و مولد تروریزم بین المللی است و آنها همواره در جهت گسترش افراط گرایی و دهشت افگنی تلاش بی دریغ نموده اند و تا حال توانسته اند، با اغفال و فریب جامعهٔ جهانی میلیاردها دالر را به دست آورده، ولی چنانکه که دیده می شود، برخلاف عملکردهای پاکستان، جامعهٔ جهانی همواره توجه آنچنانی در قبال این همه تخطی و دو پهلویی آن کشور از خود نشان نداده، تا آنها را از طریق سیاسی و ... از این عمل خلاف همه موازین اسلامی و دیپلوماتیک باز دارد. ولی دیده می شود که دوام این کار هم به مردم افغانستان و هم به نیروهای نظامی خارجی مستقر در افغانستان زیان بار خواهد بود و توقع در این است که تغییراتی در فلسفهٔ جنگ به منظور از بین بردن بنیاد تروریزم روی دست گیرند که خوشبختانه در این اواخر، حملات طیارات بدون سرنشین و گاه گاهی هلیکوپترهای ناتو به منظور هدف قرار دادن مخالفان در خاک فعلی پاکستان بیشتر گردیده که از یک جهت باعث امیدواری است و در حقیقت این امر یک تحول اساسی بوده به منظور هدف قرار دادن مخالفان مؤثریت بیشتر خواهد داشت، ولی به هر حال، پاکستان هم در طول این مدت نشان داده است که با حملات نیروهای ناتو در یک نقطه یی از آن کشور آنها سران طالبان، القاعده و ... را به جای مصئون و امن در سایر شهرهای پاکستان مانند کراچی، لاهور و حتا اسلام آباد انتقال و جابجا نموده اند.

پس چنانکه گفته آمدیم، پاکستانی ها با ازدیاد فشار قسمی بالای شان از جانب جامعهٔ جهانی سراسیمه شده و آنها را به نحوی خشمگین ساخته است و به گونه یی کشور حامی تروریزم باز هم به چاره جویی پرداخته که می توان از تحریک و سازماندهی تروریستان دست پروردهٔ شان برای نیروهای ناتو در مسیر اکمالاتی آنها در پاکستان ممانعت ایجاد نموده و در صدد کسب امتیازات بیشتر می باشند.

ضمناً به کرات دیده شده است که عدم تمایل اردوی پاکستان در به راه اندازی عملیات نظامی در اکثر نقاط پاکستان بخصوص در منطقهٔ وزیرستان جایی که شبکه های القاعده، طالبان و گروه حقانی در آنجا پناه گرفته اند که موجب نگرانی جامعهٔ جهانی نیز شده است، موجب تقویت تندروان شده است. با آنکه جامعهٔ جهانی از شدت حملات بیشتر بر پاکستان در این اواخر اظهاراتی داشته، ولی پاکستان این حملات را نقض تمامیت ارضی آن کشور می داند. پس آیا آن کشور (پاکستان) نمی داند که تعداد کثیری از اتباع پاکستان که بعد از دستگیری از جانب نیروهای امنیتی افغانستان معترف به جرم های شان گردیده و گفته اند که از پاکستان به منظور اعمال تخریبی وارد افغانستان شده اند، ولی افغانستان باز هم با حسن نیت اکثریت آنها را به خاطر همجواری و همسایه داری رها نموده است. پس آیا واقعاً این نقض تمامیت ارضی افغانستان نیست.

از جانب دیگر، افشای حملهٔ ناکام بر میدان تایمز نیویارک و کشف برنامهٔ عملیات خطرناک در برخی از شهرهای اروپایی که گفته شده در پاکستان طرح ریزی گردیده است، باز هم مصداق این موضوع را به یقین نزدیک می سازد که پاکستان (حلقات استخباراتی و نظامی آن کشور) یعنی جزیی از مغز اصلی تروریزم بین المللی است.

# د افغان ښځینه سوداګرو ستونزې څېړل غواړي

په افغانستان کې د سوداګرو ښځو فدراسیون نیوکه کوي، چې مرسته کوونکو ادارو ورسره اساسي مرستې نه دي کړي او د ودی لاسي صنایعو ته يې بازار نه پیدا کړی. په افغانستان کې د سوداګرو ښځو فدراسیون غواړي، چې د سوداګرۍ او پانګه اچونې په برخه کې د ورپښو ستونزو د هواري او پر ځان د بسیا کولو لپاره یوه ستراتیژي پلې کړي. د افغانستان د سوداګرو ښځو فدراسیون چاروا‌کو دغه خبرې د دوشنبې په ورځ په کابل کې د ښځو د لاسي صنایعو د یوه نندارتون د پرانیستلو پروخت وکړي. د افغانستان د ښځینه سوداګرو د فدراسیون رییسې مهرمن ګل جان د دغه فدراسیون پر پخوانیو چاروا‌کو او ډونرانو انتقاد وکړ، چې د دغه فدراسیون لپاره يې بنسټیز کارونه نه دي کړي. دې وویل، چې پر داسې یوه پالیسي او ستراتیژۍ به کار وکړي، چې دغه فدراسیون پر خپلو پښو ودروي. "باید ځینې بنیادي کارونه شوي وای، چې اوس دغه فدارسیون خود کفا وای، یو تعمیر يې باید لرلای نه کرایي تعمیر. زمور ستراتیژي دا ده، چې باید خودکفا شو او د فدارسیون هیات دا وړتیا لري او داسې پالیسي باید غوره کړو، چې د فدارسیون له لارې، تولیدات، صادرات او واردات ولرو. " همدار نګه اغلې ګل جان وویل، چې مرسته کوونکو ادارو د ښځو د فدراسیونونو او ټولنو تر منځ یووالی له منځه وړی او مرستې يې په بنسټیزه توګه نه دي کړي. دغه فدراسیون چې د ټول هېواد په کچه شا او خوا ۳۲ زره غړي لري، په ډېلا ډېلو لاسي صنایعو کې کار کوي. د دغه فدراسیون یو شمېر غړي شکایت کوي، چې ښځې په خواریو لاسي صنایع جوړوي خو ډېره ګټه يې نورو ته رسېږي، رحیمه او شیما چې دغه نندارتون ته يې خپل لاسي صنایع وړاندې کړي، د خپلو ستونزو په اړه يې ازادي راډیو ته وویل: "پیاوړی اقتصاد نه لرو، چې ښځې په دنده وګمارو، مارکېټ نه لرو، په مارکېټ کې یا پاکستاني مالونه دي او یا هم چینایي او یا هم ایراني. زمور مالونو ته دومره پاملرنه نه کېږي، دولت هم پاملرنه نه ورته کوي، زمور مارکېټ ته پاکستان او ایران ماتې ورکړي. بازار نه لرو او اقتصاد مو کمزوری دی، مور ته تیږې په لوړه بیه پرېوځي، چې هېڅ ګټه په کې نه پاتېږي."

په تېرو څو کلونو ۳ مخ

کنوانسیون حقوق اطفال

یوځلو پښتمه ماده: د هغو هېوادونو قانونونه چې له دې ټرون نه ډېر د ماشومانو په ګټه دي، پخپله کارول کېږي.

مادهٔ چهل و یکم: قوانین کشور ها یی که زیادتر نسبت به این موافقت نامه به نفع اطفال هستند مورد استفاده قرار می گیرند.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپانه یوازې د سر لیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه يې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل:- ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل:- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل:- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com